۱۶

بسم الله الرحمن الرحیم

## په انګلستان کې د اوسیدونکو افغانانو د ټولنې اساسنامه:

لمړۍ ماده: د ټولنې نوم به په انګلستان کې د اوسیدونکو افغانانو ټولنه وي.

دویمه ماده: د ټولنې ماهیت:

ټولنه به خپلواکه، غیر سیاسي او غیر سکتوري سازمان وي.

ټولنه به ۱۰۰٪ هیڅ ډول تبعیض څخه په مساوي حقوقو او امکاناتو د ټولو افغانانو نارینه او ښځو ګډ سازمان وي.

دریمه ماده: مقاصد او اهداف:

د بیوځلي د لرې کولو، د پوهې د لوړوالي او د تفریحي اسانتیاو د برابرولو په ګډون به دا ټولنه په انګلستان کې د افغانانو مهاجرینو لپاره مرستندویه کومکونه برابروي او د هغوي د ژوندانه د ښه کولو لپاره به ټولنیزې ښیګړې برابروي.

د پورتنیو اهدافو د په مخ ته بیولو لپاره به، او له هغو څخه د باندې نه، ټولنه دا لاندې واکونه ولري:

(۱) د روغتیائي، مهاجرتي او قانوني ستونځو په برخه کې د ټولو او هر ډول مرستو برابرول.

(۲) په برتانوي ټولنه کې د اسانتیاو برابرولو په لیار کې د افغانانو لپاره د مساوي امکاناتو برابرولو لپاره کار کول.

(۳) په برتانیه او بهر کې له نورو ټولنو سره ددې ټولنې اړیکي

ټینګول.

(٤) د کمیټې له غړو پرته نور مامورین په معاش ورکولو سره په کارګمارل.

(٥) د ټولنې لپاره د ځای نیول او له قانون سره سم د ځای پریښوول.

(٦) په دې شرط چې د ټولنې لپاره به په هیڅ ډول دایمي تجارتي لیارو چارو لاس نه پورې کوي، له ځانګړو اشخاصو او ټولنو څخه د مالي مرستو غوښتل.

(٧) د پورتنیو اهدافو د په مخ ته بیولو لپاره د نورو ورته دندو سرته رسول.

څلورمه ماده: د کارکولو پرنسیپونه:

دا ټولنه او غړي به یې، د خپلو ګړو اهدافو د سرته رسولو په لیار کې، لاندیني اساسات په نظر کې ساتي:

(الف) د خپلو واکونو په کارولو او د خپلو دندو په سرته رسولو کې به، په انګلستان کې د اوسیدونکو افغانانو ټولنه بشپړه خپلواکي وساتي.

( ب) ټولنه به د هغې د دندو د سرته رسولو او ادارې په لیارکې د ټولنې د غړو د مساوي حقوقو لرلو په اصولو ولاړه وي.

( ج) ټولنه به د هغې د غړو د سازمانونو په کار کې مداخله نه کوي.

پنځمه ماده: غـــړیتوب:

په انګلستان کې ټول اوسیدونکي افغانان د ټولنې غړي کیدای شي. د هغوی د رایو ورکولو او په انتخاباتو کې د خپل ځان نومولو حقوق خوندي دي.

شپږمه ماده: کلنۍ عمومي غونډې:

کلنۍ عمومي غونډه د ټولنې تر ټولو لوړ واکمن ارګان دی. کلنۍ غونډې به د اجرائیه کمیټې د رئیس په غوښتنه رابلل کیږي او د رابللو له نیټې څخه مخ کې به لږ تر لږ ۳۰ ورځې د مخه غړو ته خبر ورکول کیږي.

کلنۍ عمومي غونډې به:

( الف) د ټولنې کلني راپور څیړي.
( ب) مالي راپور څیړي.

( ج )     د رایو په ساده اکثریت به پریکړی کوي.

اوومه ماده: تشکیلاتي جوړښت:

( الف ) په انګلستان کی د اوسیدونکو افغانانو د ټولنی اساسي تشکیل له عالي شورا، اجرائیوي کمیټی او سکرتریت څخه عبارت دي.

( ب ) عالي شورا په ټولنه کی تر ټولو لوړ ارګان دی او د ټولنی له ټولو غړو څخه جوړیږي. عالي شورا په کال کی یوځل غونډه کوي. د اجرائیه کمیټی په غوښــتنه او یا د سوبو غړو له دریو څخه د دوه برخو په غوښــتنه د عالي شورا فوق العاده غونډه رابلل کیدای شي.

( ج ) عالي شورا واک لري چی د ټولنی مالي او مادي کړنلاره وټاکي او بودجه ومني.

( د ) عالي شورا مشورتي هیئت ټاکي چی د ټولنی کلني مالي حسابونه وګوري. د اجرائیوي کمیټی له غړو څخه یو هم د مشورتي هیت غړی نشي ټاکل کیدای.

( ه ) د عالي شورا رئیس په هره غونډه کی د رایو په اکثریت ټاکل کیږي. د سکریت مشر د عالي شورا د سکرتر دنده په غاړه لري.

( و ) اجرائیه کمیټه اووه غړي لري چی د عالي شورا له خوا ټاکل کیږي. د هغوي د خدمت موده یو کال ده او بیا له سره انتخابیدای شي. که چیری د ټولنی غړي زیات شي، نو کیدای شي چی د اجرائیه کمیټی غړي په اعظمي توګه ۱۱ تنو ته پورته شي. د اجرائیه کمیټی دا فیصله به د عالي شورا له خوا منل کیږي.

( ز ) اجرائیه کمیټه هره میاشت د ټولنی په اداره کی غونډه کوي. د اجرائیه کمیټی فوق العاده غونډه د هغی د رئیس په غوښــتنه رابلل کیدی شي. که ضرورت وي، د اجرائیوي کمیټی په غونډه کی یو غړی د بل نمایندګي کولای شي.

( ح ) د اجرائیه کمیټی په لمړی غونډه کی د رایو په اکثریت د هغی رئیس انتخابیږي او د کمیټی د داخلي کارونو د انسجام لپاره کړنلاره ټاکي.

( ط ) اجرائیه کمیټه د ټولنی د مشخصو دندو د تر سرته رسولو لپاره د کمیټی یوه غړي یا غړو ته مسئولیت ور په غاړه کوي. هغه غړی یا غړي باید د خپل کار راپور ژر تر ژره کمیټی ته وراندی کړي.

( ی ) اجرائیه کمیټه د ټولنی کړنلاره او پالیسي فورمولبندي کوي او بودجه تیاروي. د عالي شورا له منلو څخه وروسته هغه تطبیقوي.

( ک ) سکریت د خپلو ټولو دندو د اجرا په لیار کی اجرائیه کمیټی

ته مسئولیت لري.

اجرائیه کمیټه:

( ل ) غړي:
( الف ) یو رئیس.
( ب ) یو مرستیال رئیس.
( ج ) یو خزانه دار.
( د ) یو ګډ خزانه دار.
( ه ) یو د تبلیغاتو سکرتر.
( و ) اووه تنه د کمیټې غړي.

( م ) ټاکل شوی رئیس د کلنیو غونډو ریاست په غاړه لري. د رئیس د ناسوبټوب په وخت کې، د رئیس مرستیال د هغه ټولې دندې په غاړه لري.

( ن ) عمومي سکرتر د اجرائیه کمیټې غړي رابولي، د غونډو ټول بهیر لیکي او د ټولني د ټولو لیکنو مسئولیت لري.

( س ) ټاکل شوی خزانه دار دا لاندې دندې او مسئولیتونه لري:

( الف ) د ټولنې لپاره ټول غړیتوبونه، اعانه او مرستې راټولوي.
( ب ) حسابونه ساتي او د دې حسابونو په هکله کالنۍ عمومي غونډې ته راپور وړاندې کوي.

اتمه ماده: تمویل:

( الف ) د ټولنې تمویل به د اجرائیه کمیټې تر کنترول لاندې وي. کمیټه کولای شي د هغوي اداره خزانه دار ته وسپاري او په دې برخه کې به د کمیټې له خوا ورته کله کله لارښوونه کیږي.

( ب ) د ټولنې ټول مال او شتمني به د ټولنې د اهدافو د مخ ته بیولو په لیار کې په کاریږي.
( ج ) مالي کال د هرکال د اپریل له اول څخه د مارچ تر ۳۱ پوری وي.
( د ) د ټولنې د بانکي حساب پرانستلو لپاره د دوه تنو، رئیس او خزانه دار لاسلیکونه شرط دي. د رئیس او یا خزانه دار د ناسوبۍ په وخت کې، د رئیس مرستیال او یا عمومي سکرتر د هغوي په ځای لاسلیک کوي. خزانه دار شل پونډه نغدې پیسې د ورځني کار د مخ ته بیولو لپاره د ځان سره ساتلای شي.

نهمه ماده: وقفي شتمني:

د ټولو حقیقي او یا ځانګړو شتمنیو اسناد به، چې د ټولنې لپاره او یا د هغې په نوم لاس ته راوړل کیږي، په داسي سازمان کې ساتل کیږي چې هغه قانوني واک ولري او یا به له کسانو نه ډیر او کسانو نه

لږو ته، چې د کمیټې غړي نه وي، سپارل کیږي.

لسمه ماده: په اساسنامه کې بدلون راوستل:

په دې اساسنامه کې هر ډول بدلون راوستل د ټولنې د موجوده ټولو غړو د له دریو څخه د دوه برخو نه کمو په رایو نشي تر سره کیدای. دا غړي که په انفرادي بڼه وي یا د استازو په شکل په رایو ورکولو کې برخه اخلي خو شرط دا دی چې داسې غونډه باید چې ددې منظور لپاره جوړه شوې وي او د هغې د جوړیدو خبر عمومي منشي ته د جوړیدو له نیټې ۲۱ ورځې د مخه رسیدلی وي. په اساسنامه کې د داسې بدلون راوستلو خبر باید لږترلږه د عمومي منشي له خواد غونډې جوړیدو څخه د مخه ټولو غړو ته په لیکلي توگه واستول شي. په اساسنامه کې داسې بدلون نشي راوستل کیدای چې د هغې د خیریه مؤسسې ماهیت بدل کړي.

یوولسمه ماده: د ټولنې له منځه وړل:

که چیرې کمیټه وغواړي هر وخت د لګښتونو یا نورو له کبله په ساده [illegible] ټولو غړو

چې د رایو ورکولو حق لري د غونډې له جوړیدو ۲۱ ورځې د مخه باید راوبلل شي او په مخ کې باید د ټولنې د ړنګیدو خبر او شرطونه ورلیږل شوي وي. که دا فیصله د سوبو غړو د له دریو څخه دوه ساده اکثریت له خوا ومنل شي، کمیټه حق لري چې ټوله شتمني چې په ټولنه پورې اړه لري، لرې کړي. د ټولنې له ړنګیدو وروسته که کومه شتمني پاتې کیږي، له هغې نه به کوم پورونه یا ذمه واري چې د ټولنې په غاړه وي ورکول کیږي. او یا به دا شتمني داسې ټولنو او خیریه مؤسسو ته ور کول کیږي چې د هغو اهداف د ټولنې اهدافو ته ورته وي او د کمیټې له خوا تشخیص شي.